د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره
د تخنیکي او مسلکي چارو معاونیت
د تعلیمي او تحصیلي څارنې او ارزونې ریاست
د تعلیمي او تحصیلي ارزونې آمریت

## د ښوونیزو مرکزونو د عملي کارونو ساحو د ارزونې او کتنې فورمې د شاخصونو تشریح

| شاخص | د شاخص تشریح |
|---|---|
| ۱. د عملي زده کړې لپاره پوره فضاء (د زده کړیالانو شمېر ته په کتو مناسبه فضاء) | لازمه ده چې د عملي کار محیط داسې طرحه شوی وي چې د ټولګي د حاضرو زده‌کوونکو لپاره پوره ځای ولري، ترڅو د تګ راتګ، د تجهیزاتو نصب او کارولو، انفرادي او ګروپي عملي فعالیتونو لپاره مناسب شرایط برابر وي. د میزونو او کاري ساحو ترمنځ باید لږ تر لږه فاصله مراعت شي تر څو له فزیکي ټکر او خنډونو څخه مخنیوی وشي. |
| ۲. د تعمیر وضعیت (چت، دیوال، دروازه، کړکۍ، ګرین هاوس...) (جوړوالی او یا ترمیم ته اړتیا) | ودانۍ باید له فزیکي اړخه سالمه وي؛ چت یې باید څڅوبی ونکړي، دیوالونه یې باید له درز او لندبل څخه خالي وي، دروازې او کړکۍ باید د خلاصېدو، بندېدو او قلفېدو وړ وي. که چیرې ګرین‌هاؤس موجود وي، باید شیشې یا پلاستیک یې سالم وي، او جوړښت یې د تودوخې تبرونکی، او د کال په ټولو فصلونو کې د استفادې وړ وي. |
| ۳. تهویه او د هوا جریان (د کړکیو موجودیت، بادپکه یا مصنوعی تهویه) | د خلاصېدونکو کړکیو یا مصنوعي هوایي سیستمونو له لارې باید تازه هوا په دوامداره توګه داخله شي او ککړه هوا باید خارجه شي، په ځانګړې ډول هغه ټولګیو کې چې له کیمیاوي موادو، دوړو، لوګي یا ګاز سره سروکار لري او کرنیز فارم کې چې نباتات د دیوال تر سیوري لاندې یا نورو هغو خنډونو تر څنګ قرار ولري چې د هوا جریان بندوي، شرایط باید په دقت وڅېړل شي. که ښکارندوی عملاً د تطبیق وړ نه وي، باید "د تطبیق وړ نه‌دی" ولیکل شي او دا برخه باید د نمرو په وروستۍ مجموعه کې شامله نه‌شي. |
| ٤. پوره رڼا (طبیعی او برقي) (د ګروپونو شتون، د لمر رڼا، د برق وضعیت) | صنف باید د لمریزو ورځو لپاره پوره طبیعي رڼا ولري، او د برېښنا رسونې سیستم، سالم څراغونه او مناسبه روښانتیا ولري. د رڼا شدت باید داسې تنظیم شي چې په ټول ټولګي کې مناسب لید برابر کړي او د دقیقو کارونو لکه لحیم کاري ، ډیزاین، ګنډلو او نورو په مهال د سترګو ستړیا رامنځته نه‌شي. |
| ٥. پاکي او د چاپېریال نظم (د چاپېریال پاکي، د کثافت دانۍ شتون، د وسائلو نظم.) | د عملي زده‌کړې چاپیریال باید تل پاک، له دوړو، کثافاتو او بد بوی څخه پاک وي. وسایل او تجهیزات باید په ځانګړو ځایونو لکه الماری، بکسونه یا صندوقونو کې تنظیم او لیبل پرې لګول شوی وي. یو منظم د نظافت پلان ترتیب او ورځنۍ پلټنه باید تل تر سره شي. |
| ٦. د برق فعال او خوندي سیستم (د برق وصل او د سیم غزېدنې خوندیتوب.) | د برېښنا سیستم باید په مسلکي ډول نصب شوی وي، محافظتي فیوزونه، روغې کلیانې، پوښل شوې سیم‌غزیدنه باید ولري او هېڅ بربنډ سیم باید موجود نه وي. په هغو برخو کې چې له برېښنا کار اخیستنه خطرناکه وي، باید د کارونې لارښود او په اضطراري (عاجله) توګه د برېښنا بندولو کلی نصب شوې وي. |
| ۷. روغتیایي وسایلو ته لاسرسی (د لومړنیو مرستو بکسه) | د لومړنیو طبي مرستو صندوق باید په داسې ځای کې وي چې اسانه لاسرسی ورته ممکن وي، او باید لومړني توکي لکه بانداژ، ضدعفوني کوونکې، قیچی، دستکشې او نور ضروري مواد ولري. باید ډاډ ترلاسه شي چې صندوق منظم، مکمل او د استفادې لپاره آماده وي، نه دا چې یوازې د ښکاره کولو لپاره وي. |

| د شاخص تشریح | شاخص |
|---|---|
| استعمالېدونکي وسایل باید معیاري، د درسي منځپانګې مطابق، او د صنعتي سټنډرډونو سره برابر وي. له په لاس جوړ شویو او یا غیر معیاري وسایلو څخه چې خوندیتوب له خطر سره مخامخ کوي باید ډډه و شي. تجهیزات باید له درسي نصاب سره همغږي، د کار اخیستنې لپاره چمتو، او د زده‌کوونکو لپاره د لاسرسي وړ وي. | ۸. د معیاري وسایلو او تجهیزاتو شتون.<br>(د نصاب د اړتیا اړوند تجهیزات) |
| په کاري چاپېریال کې موجود تجهیزات باید له فزیکي اړخه سالم، معیاري او د استفادې وړ وي. تجهیزات باید مات، زنګ‌وهلي، نیمګړي یا تخریب نه‌وي، او باید د زده کړې لپاره پرته له خطره او د استفادې وړ وي. | ۹. د تجهیزاتو کیفیت او فیزیکي حالت<br>(جوړ، معیاري او د استفادې وړ) |
| مصرفېدونکي مواد لکه پیچونه، رنګ، سیم، سرې، ټوکر، تخمونه او نور باید د سمستري پلان مطابق، په پوره اندازه شتون ولري او چمتو اوسي. | ۱۰. د مصرفي موادو شتون<br>(خام مواد، وسایل، د عملي کار درسي مواد) |
| ارزونکی باید وڅېړي چې آیا د وسایلو او تجهیزاتو لپاره د ثبت منظم سیستم شته یا نه. دا سیستم باید د موجودو وسایلو بشپړ لست او په ورځنۍ توګه د مصرفېدونکو توکو (لکه تخم، سره، پرزو، د پاکولو مواد او نورو) ثبت ولري. ثبتونه باید واضح، تازه او د مدیریت او زده‌کړه‌ایز ټیم لپاره د لاسرسي وړ وي. راجستر د کتابچې، رسمي فورم یا دیجیټالي سیستم په بڼو ترتیبیدای شي، خو باید منظم او د څېړنې او تعقیب وړ وي. | ۱۱. د وسایلو د ثبت او راجستر سیستم (د وسایلو د لست شتون او په ورځنۍ توګه د مصرفي موادو ثبت) |
| هر زده‌کوونکي یا ګروپ ته باید مناسب، آرامه او قوي میز او څوکۍ چې مناسب لوړوالی ولري شتون ولري. میز باید د تجهیزاتو یا کاري موادو د نصب وړتیا ولري. | ۱۲. د چوکیو شتون او د کار لپاره د مناسب میز شتون (د ټولو زده کړیالانو لپاره د چوکیو شتون) |
| ارزونکی باید وڅېړي چې آیا عملي کارونه د سمستري پلان او درسي تقسیم اوقات سره سم منظم ترسره کېږي یا نه. د دې لپاره باید د عملي فعالیتونو د ثبت کتاب موجود وي، چې پکې نېټه، د فعالیت ډول، اړوند مضمون او د ګډون کوونکو زده‌کوونکو شمېر دقیق او منظم ثبت وي. | ۱۳. د سمستري پلان او درسي مهالویش مطابق د عملي کار سر ته رسول (د عملي کار د کړنو د ثبت کتاب) |
| ارزونکی باید وڅېړي چې آیا د زده‌کوونکو او استادانو لپاره د فردي خوندیتوب وسایل موجود او د استفادې وړ دي یا نه. دغه وسایلو کې باید: دستکشې، ماسک، محافظتي عینکې، خوندي بوټ، کاري خولۍ او نور اړوند تجهیزات شتون ولري. دا وسایل باید پوره، جوړ او د کاري چاپېریال د خطرونو مطابق برابر شوي وي. | ۱۴. د خوندیتابه د وسایلو شتون (د خوندیتابه امکانات (دستکش، ماسک، عینکې...) شتون لري) |
| په خطرناکو ځایونو (لکه بریښنا، اور، کیمیاوي مواد، درانده ماشینونه) کې باید بصري خبرداری ورکوونکي نښانونه، لکه "د بریښنا خطر"، تابلو "د دستکشې کارول لازمي دي" شتون ولري  یا نصب شوي وي. د ماشینونو د کار لارښوونې هم باید د هغو ترڅنګ نصب شوي وي. | ۱۵. د خطر ښوودونکي نښې او لارښوونې (د کار په ساحه کې د نښو او د خوندیتابه د لارښوونو د اصولو جدول شتون) |
| ارزونکی باید وڅېړي چې آیا د شته وسایلو او تجهیزاتو د ساتنې، مراقبت او ترمیم لپاره یوه منظمه او تعقیب وړ کړنچاره شته یا نه. په دې مدیریت کې منظمه پاک‌کاري، دوره‌اې معاینات، د خرابۍ راپور ورکول، او د ترمیم یا بدلولو اقدامات شامل دي. ارزونکی باید یو | ۱۶. د وسایلو د ساتنې مدیریت (د وسایلو د ترمیم او مراقبت په تړاو اقدامات او کړنې) |

| شاخص | د شاخص تشریح |
|---|---|
| | شمېر شواهد لکه د تعمیراتو او ترمیماتو د ثبت کتابچه، تخنیکي راپورونه یا د ساتنې مسؤلینو لپاره د مشخصو دندو ویش و پلتې. |
| ۱۷. د مدیریت سیستم او د محصول ثبتول (د محصولاتو د اندازې او خرڅلاو د ثبت سیستم) | ارزونکی باید وڅېړي چې آیا د عملي کار ساحه د تولید د اندازې ثبت، د پلور اندازې ثبت او د محصول موجودی لپاره د ثبت منظم سیستم لري یا نه. دا سیستم دیجیټالي یا په لاسي توګه جوړېدای شي، خو باید روڼ، منظم او تعقیب وړ وي تر څو د محصولاتو ګټور مدیریت څرګند کړي. |